بسم الله الرحمن الرحيم

د سعيدافغاني د سولې او تفاهم ، نشراتي ارګان

www. said-afghani.org

استقامت په ژوند کې او متانت په کارنوکې
د موفقيت راز دی . « سعيد افغاني »

آزاده ، تولنيزه ، فرهنګي
او نشراتي ارګان



Dr. M. Said Said Afghani

د سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!

صيام الدين « پسرلي »

د نشر نیټه : ۴ سپتمبر ۲۰۱۲ میلادی

# مثبت بدلون خپله اوومه غونډه تر سره کړه




مثبت بدلون خپله اوومه غونډه د سنبلې په ۱۴ مه د ننګرهار ټولنيز مرکز ميديوتيک په انګړ کې ترسره کړ، چې ۲۵ تنه ځوانان پکې ګډون درلود.

مثبت بدلون ټولنه يو ناسياسي اجتماعي حرکت دی، چې د هېواد د با احساسه او سالم _مثبت فکر لرونکو ځوانانو له خوا د ننګرهار ولايت په جلال آباد ښآر کې رامنځته شوه؛ خو ليد او د فعاليت ډګر يې ټول هېواد په بر کې نيسي.

د مثبت بدلون دغه ځانګړي ناسته د تېرو فعاليتونو ارزونه او د راتلوونکي فعاليتونو لپاره پلان جوړول او مشوره کولو ته ځانګړی شوی و، چې د غونډې په جريان کې هجرت الله اختيار او صيام الدين پسرلي د خپلو تېرو فعاليتونو کزارش وړاندې کړ چې د ګډونوالو له خوا وستايل شو.

د غونډې په اوږدو کې ډېری ځوانان خپل نظريات شريک کړ او د راتلوونکې ناستې لپاره د سنبلې ۲۹ تاريخ چې د چهار شنبې ورځ سره سمون خوري و ټاکل شو.

په درنښت
مثبت بدلون ټولنه
صيام الدين« پسرلی»

بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org

هره ليکنه د ليکوال خپل نظر دی او خپله دليکوال اند ځرګندوی
استفاده از مطالب سايت « ارګان نشراتی صلح و تفاهم سعيد افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است